آمریت عمومی نظارت بانکی
د بانکي څارنې لوی آمریت

د افغانستان بانک

OSE/RSR/ZCD.................گڼه: ۶۶۲۹ - ۷۶۰۴
نیټه: ۱۴۴۴/۰۵/۱۳ ۷۶۶۷

---

د ځانګړو سوداګریزو بانکونو د قدر وړ ریاست ته

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

**<u>موضوع: د بانکونو د نمایندګیانو د پرمختیا او بهبود په اړوند د یو لړ اړینو کړنو ترسره کول</u>**

**ماهیت: متحدالمال**

له ډیر درناوی وروسته،

د افغانستان بانک لخوا د ټاکلی پلاوی له لوری چې د سوداګریزو بانکونو د خزانو، ګدامونو او د پورورو له شرکتونو څخه د ناڅاپي لیدنې په موخه ګمارل شوی وو لیدنې ترسره کړه، چې د ولایاتو د مرکزي او غیر مرکزي نمایندګیانو څخه د لیدنې او بررسۍ په پایله کې یو لړ ستونزې او نمیګړتیاوې په ډاګه کړې چې د افغانستان بانک د 1444/05/04 نیټې حکم له مخې سوداګریز بانکونه مکلف دي چې د دې اداري لارښوونې په لاندې مواردو کې تطبیق کړي:

- د بانکونو مسئولین مکلف دي چې له دوه نمبره پیسو د موجودیت څخه په نمایندګیانو کې ډډه وکړي او په دې اړه ډاډ ترلاسه کړي؛
- د بانکونو رئیسان باید د داخلي پلټنې ټیم برسیره په هر شپږ میاشتو کې یو ځل د مرکز او ولایاتو له نمایندګیانو څخه ناڅاپه لیدنه او بررسي ترسره کړي او د کارمندانو د کفایت او د مناسب رفتار څخه ډاډ ترلاسه کړي؛
- د بانک لوړ پوړي چارواکي مکلف دي چې د نمایندګیانو د موقعیت او د کافي ځای د درلودلو په اړوند سروې ترسره کړي او هغه نمایندګیانې چې کافي او مناسب ځای په خپل اختیار کې نلري باید یو مناسب ځای ته انتقال شي؛
- د بانکونو د لومړۍ درجې مسئولین مکلف دي چې خپل د ساتونکو شمیر د ښځینه ساتونکو او تلاشي په شمول د اړتیا په درلودلو سره په مناسبه کچه په نمایندګیانو کې ډیر کړي؛
- د بانکونو مسئولین مکلف دي چې د کافي کمرو او د امنیتي دوربینونو د موجودیت او د فعال پاتې کیدلو څخه په مهمو او اساسي بخشونو د بانک کې ډاډ ترلاسه کړي، که چیرې بیا ځلې د لیدنې او بررسۍ په پایله کې دا ستونزه نه وي حل شوي د بانکونو لومړۍ درجې مسئولینو سره به په جدي توګه برخورد کیږي؛ او
- د بانکونو مسئولین مکلف دي چې ښځینه کارکوونکو ته په مرکز او د ولایاتو په نمایندګیانو کې مناسب ځای په پام کې ونیسي.

له دې امله د بانک مسئولینو ته لارښوونه کیږي چې پورته تنفیذي شرطونه د بانک د بهبود او ښه والي په موخه عملي او خپلې کړنې د افغانستان بانک د ریاست د حکم مطابق د یادو ستونزو د حل کولو په موخه ترسره کړي .

د افغانستان بانک د وخت څخه په ګټه اخیستنې، ستاسو د لا زیاتو بریاوو غوښتونکی دی.

په درنښت

نور احمد آغا
د افغانستان بانک لومړی مرستیال

۱۴۴۴/۰۵/۱۲

کاپي:

- د اسلامي بانکداري او مالي خدمتونو د قدر وړ آمریت ته؛ او
- د افغانستان د بانکونو ټولنه ته.